مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د جنوري شپږمه | ٦٥٩مه ګڼه


2 017550 139621

## کتاب

۴ مخ

## ځان مه محدودوئ!




دا کتاب پر محصلینو او کاروباریانو سربېره، د ټولنې له هر وګړي سره مرسته کولی شي، څو خپلې پټې وړتیاوې وپېژني او په مرسته یې ټولې هغه پولې او خنډونه له منځه یوسي، چې د دوی ژوند او کاري چاپېریال یې محدود کړی دی.

# د بین الافغاني مذاکراتو دویم پړاو؛

## افغان حکومت: پلاوی له بشپړ ملاتړ برخمن دی، لومړی باید اوربند وشي




### پر هره خوا تیاره کې د سولې تت څراغ ته هیلې

۲ مخ

### د چین دي دیارلسم پنځه کلن پلان پای او دي څوارلسم هغه پیل

۲ مخ

### افغانستان؛ تجربه شوي نظامونه او نوی فرصت

۳ مخ

**کرنې وزارت:**

## په ننګرهار کې له ۴۵۰ زرو زیات د ستروسو نیالګي تولید شوي



کرنې وزارت وایي چې د ننګرهار ولایت په نرسریو یا د نیالګیو د تولید په مرکزونو کې د ستروسو څه باندې ۴۵۰ زره نیالګي تولید شوي دي. د دغو نیالګیو له ډلې نږدې سل زره یې په دوو شنوخونو کې او ۳۵۰ زره نور یې په ازاده فضا کې تولید شوي دي. په ننګرهار کې د SNAPP۲ او CLAP پروژو مسوول رحمت ګل سیرت وایي، چې د ستروسو نیالګیو دوې قوریې د بهسودو او نورې یې د دغه ولایت په نورو ولسوالیو کې دي.

نوموړی زیاتوي: «د دغو نیالګیو له ډلې نږدې سل زره یې د بهسودو ولسوالۍ په دوو شنوخونو کې تولید شوي او ۳۵۰ زره نور یې په ازاده فضا کې تولید شوي، چې پکې د لیمو او مالټې نیالګي شامل دي او ښه بازار لري.» د سیرت په خبره، د شنوخونو قوریې هره قوره یې نږدې ۵۰ زره د لیمو او مالټې نیالګي تولید کړي او دغه نیالګي وېش ته چمتو دي، چې د نیالګیو اېښودو په موسم کې پر بڼوالو او ځمکوالو وېشل کېږي.

**چین:** 

## له افغانستان سره د سولې په پروسه کې هر اړخیزه همکاري کوو

چین یو ځل بیا ډاډ ورکړی چې د افغانستان د سولې له پروسې سره به بشپړه همکاري کوي. د افغانستان لپاره د چین ځانګړې استازي لیو جان د ملي مصالحې عالي شورا له رییس ډاکټر عبدالله عبدالله سره په لیدنه کې یادې څرګندونې کړې دي. په دې لیدنه کې چینایي لوري ډاډ ورکړی، چې له افغانستان سره د سولې په برخه کې هر اړخیزه همکاري کوي.

په ورته مهال د ملي مصالحې د عالي شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله هم د سولې په برخه کې د سیمې د هېوادونو له مرستې مننه کړې او په خبره یې، هڅه کېږي چې روانه جګړه د خبرو له لارې ختمه کړل شي. هغه همدا راز ویلي، چې د سولې له خبرو سره هممهاله روان تاوتریخوالی او هدفي بریدونه د جدي اندېښنې وړ دي چې د سولې پروسه زیانمنولی شي.

په ورته مهال د افغانستان لپاره د چین ځانګړې استازي لیو جان ویلي، دوی د سولې له پروسې سره بشپړه همکاري لري او په دې تمه دي چې د بین الافغاني خبرو دویم پړاو په افغانستان کې د جګړو د پای ته رسېدو سبب شي.

د یادونې ده چې له نږدې شل ورځنې ځنډ وروسته ټاکل شوې چې د سولې بین الافغاني خبرو دویم پړاو نن بېرته په دوحه کې پیل شي.

### په افغانستان کې مو ۱۹ کلن حضور بسنه کوي، نور ترې راوځو



۳ مخ

**وزارت صحت عامه:** 

## در جریان دو هفتهٔ آینده، ویروس کرونا حالت نزولی را به خود می گیرد




رئیس جمهور غنی به وزارت صحت عامه هدایت داد که در قسمت استخدام به ویژه مشاوران باید میکانیزم و معیارهای شفاف داشته باشد، در خصوص موج دوم ویروس کرونا و نوع جدید این ویروس به مردم آگاهی دهد.

در خبرنامهٔ دفتر سخنگوی رئیس جمهور آمده است که محمد اشرف غنی رئیس جمهور کشور در نشستی با مسئولین وزارت صحت عامه در خصوص پلان مبارزه با ویروس کرونا و اصلاحات در بخش های مختلف این وزارت، صحبت نمود.

منبع می نویسد، در این نشست که در قصر گلخانهٔ ارگ انجام شد، ابتدا داکتر بشیر نورمل معین پالیسی و پلان وزارت صحت عامه، پلان مبارزه با ویروس کرونا را ارائه نمود و در مورد دستگاه تولید اکسیجن، آگاهی عامه، بهبود کیفیت خدمات صحی، تنظیم امور دوایی و بازنگری تشکیل وزارت صحت عامه معلومات داد.

وی ضمن معلومات در مورد سناریوی پیش بینی شدهٔ ویروس کرونا، افزود که اوج شیوع ویروس کرونا را گذشته و در جریان دو هفته آینده این ویروس حالت نزولی را به خود خواهد گرفت.

منبع می نویسد که دیگر مسوولین وزارت صحت عامه در مورد NTA و ادغام پروژه ها به وزارت صحت عامه، اصلاحات در سکتور شفاخانه ها و ادغام پولیو و ای پی ای به وزارت صحت عامه و پلان های کوتاه مدت و درازمدت این وزارت به رِئیس جمهور معلومات دادند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرليکنه

# په هره خوا تياره کې د سولې تت ځراغ ته هيلې

د افغـان حکومت مذاکراتي ټيـم له طالبانو سره د خـبرو لپـاره دوحـې تـه رسـېدلی او هلتـه بـه له طالبانـو سره د سـولې دويم پړاو خـبرې پيلـوي. لـه همـدې سره هممهالـه د افغـان سـولې لپـاره د امريکا د بهرنيـو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمـی خليلـزاد کابـل تـه راغلـی او پـرون يـې د پخـواني ولسـمشر حامـد کـرزي، ډاکټـر عبدالله، استاد سـياف او ځينـو نـورو کسـانو سره ليـدلي دي. د دغـو ليدنـو په اړه ويل شـوي چـې پکـې د تاوتريخـوالي پـر کمولـو او د سـولې پـه خـبرو کـې پـر اساسـي او چټـک پرمختـگ ټينـگار شـوی دی.

د ناهيلـی، بې بـاورۍ او ناامنۍ په اوج کې د سـولې دا خـبرې بيـا پيلېږي. کـه څه هم د دواړو اړخونو پر ارادو او نيتونو پوره شکونه شـته، خـو بيـا هم تمـه ده چې دا خـبرې به پرمختـگ وکـړي، مثبتـه پايلـه بـه ورکـړي او اوسـنی نـاوړه حالـت بـه بـدل کـړي. د سـولې خـبرې پـه داسـې مهـال پيلـېږي چـې پـه کليوالـو سـيمو کـې جگـړه ده او پـه ښـارونو کـې چسـپکي ماينونـو، ترورونـو او چاودنـو د وېـرې فضا خوره کـړې ده. په دې بريدونـو کـې هـر ډول خلک په نښـه کېږي، لـه همـدې املـه هېڅـوک د خونديتـوب احسـاس نـه کـوي. ځينو کسـانو لـه همدې املـه هېـواد پـرې ايښـی، ځينـې بيـا غلـي شـوي او ځينـې هـم لـه خپلـو کورونـو نـه راوځـي. پـه داسـې فضا کـې يوازينـۍ هيله همـدې تـه ده چـې د سـولې پـه خـبرو کـې بـه پرمختـگ وشي او ورسره به د وېرې او ډار دا فضا ختمـه شي.

د سـولې پـه خبرو کـې لا هـم د دواړو اړخونو ترمنځ واټـن زيات ښـکاري او سـخته به وي چـې ژر دا واټـن کـم شي، خـو دوه لاملونـه ښـايي دا واټـن کـم کـړلـی شي او د سـولې بريـا ته لاره هواره کـړي. لومړی لامل دا دی چې پـه افغانسـتان کـې حالـت خرابېږي، د مذاکـره کوونکـو پـه گـډون هېڅ افغـان اوس د امـن احسـاس نه کوي او امـن ته يوازينۍ هيلـه همـدا ده چې د سـولې خـبرې مثبته پايلـه ورکـړي. دويـم لامـل د امريـکا فشـار دی. تـرا وسـه پـورې د سـولې پـه خـبرو کـې شـوي پرمختگونـه هـم د امريـکا د مخامـخ فشـار پـه پايلـه کـې وو، لـه دې وروسـته هم ښـکاري چـې امريـکا بـه خپلـو فشـارونو تـه دوام ورکـړي. همـدا چې د خـبرو له بيا پيل سره خليلـزاد دوحـې تـه ځـي او بيـا کابـل تـه راځـي او دلتـه د سياسـتوالو ترڅنـگ لـه حکومتـي مشرانـو سره هـم گـوري، نـو ښـکاري چـې امريـکا غـواړي دا پروسـه چټـک پرمختـگ وکـړي. ښـايي چې خليلزاد پـه کابـل کـې چارواکو تـه هـم مهمې خبرې کـړې وي او پـه ارگ کـې بـه يـې چارواکـو تـه هـم واضـح پيغـام رسـولی وي. لـه دې وروسـته به ښـکاره شي چـې د ارگ دريځ بـه يـو ځـل بيـا ورو ورو بـدل شي او د ډېرو هغو مسـايلو منلـو تـه بـه زړه ښـه کـړي چـې پخوا يـې نـه منل.

پـه افغانسـتان کـې اوس لـه هـره اړخـه تياره او سـتونزې دي او يوازينـۍ هيلـه همـدې د سـولې تـت ځـراغ تـه ده چـې کـه ورو ورو تېـز شي او رڼـا يـې زياتـه شي. يـوازې همدا يـوه هيلـه پاتـې ده. لـه همـدې املـه دواړه اړخونـه بايـد د خلکـو دا هيلـه پـوره کـړي او د سـولې پـه برخـه کـې د خنډونـو پـر ځـای د سـتونزو حـل تـه پام وکـړي او ژر تـر ژره يوې بشـپړې هوکـړې تـه ورسـيږي.

# د چين دې ديارلسم پنځه کلن پلان پای او دې څوارلسم هغه پيل

نقيب الله مل

کال که څه هم په ټوله نړۍ کې د کرونا وبا له امله يو بې مثاله کال و، تر ډېره له ستونزو کړاوونو ډک و او د ژوند ډېرې چارې يې له عادي مسيره ايستلې وې، خو په چين کې تر ډېره دا کال بيا له يوه بل اړخه مهم او د پاموړ و، له بېوزلۍ څخه د پاکې، مرفع هوسا ټولنې د جوړېدو او د رامنځته کېدو هدف وروستی کال و. چين په خپل دې مزل کې ښه روان و او دا هدف يې ښه تر سره او پوره کړی دی، په دې توگه د ملگرو ملتونو د ۲۰۳۰ کال د پرمختگ او د فقر له منځه وړلو ټاکلي مودې څخه لس کالونه وړاندې ياد هدف ته رسېدلی دی او لومړی سل کلن مبارزاتي هدف يې تر سره کړی دی.

که څه هم د تېر کال ډېرى وخت يې له کرونا وبا سره پر مبارزه باندې تېر شوی، خو بيا هم په ټولييزه توگه د ديارلسم پرمختيايي پلان په موده کې ميليونونه وگړي، سلگونه زره کلي، باندې او کورنۍ د بېوزلۍ له حالت څخه ايستل شوي دي، يوازې د اوو کلونو په موده کې ۹۰ ميليونه وگړي له بېوزلۍ څخه خلاص کړای شوي دي چې دا يوه ډېره لوړه شمېره او بريا ده.

په چين کې د پنځو کلنو پرمختيايي پلانونو لړۍ له ۱۹۵۳ کال څخه پيل شوې ده او بيا په ۱۹۸۷ کال کې د فقيد دنگ شياو پينگ د واکمنۍ په موده کې کله چې د ورخلاصون ابتکار وشو، تر همدې نوبت لاندې دا لړۍ څو برابره پراخه او د سترو اقتصادي اصلاحاتو تر چتر لاندې راوستل شوه، چې په ترڅ کې يې په چين کې د اقتصادي او صنعتي ټکنالوژيو د پرمختگ انقلاب رامنځته او د سترو بدلونونو لړۍ ته لاره جوړه او هواره کړای شوه. د سترو پرمختيايي پلانونو کارنامې وې چې د نړۍ تر دويم ستر اقتصادي مقام يې ورساوه، اټکل کيږي چې تر ۲۰۲۸ کال پورې به د نړۍ لومړی تر ټولو ستر اقتصادي هيواد وگرځي او په دې توگه به له امريکا پښه واړوي او مخکې به شي.

د اقتصاد، توليد او صادراتو په تړاو يوه معتبره څېړنيزه اداره چې مرکز يې په برېټانيا کې دی، وايي، د امريکا او اروپايي هېوادونو په پرتله د کرونا وبا پر وړاندې د چين مبارزه، د مخنيوي لارې چارې او تدابير ډېر اغېزمن وو، چين وکولی شول چې پر وخت او په مناسبه توگه ستونزې مهار او د حالت مديريت کولو تر عهدې ووځي، د کمپنيو او فابريکو ماشين څرخونه دې درېدو حالت ته پرېنږدي، وزگارتياوې رامنځته نه شي او همدا د چين دې اقتصادي ثبات په برقرارۍ کې عمده لاملونه دي چې اقتصادي دوران يې په دغسې يو سخت ترينگلي حالت کې فعاله او روان وساته. په داسې حال کې چې نوره نړۍ له دې امله حيرانه ده، د اقتصادي رکود او فلجېدو په حالت کې گير او لوبدلې ده. د همدغو نښو نښانو پر بنا د چين اقتصادي وده به په راتلونکو څو کلونو کې د امريکا په پرتله لا گړندۍ او د لوړ عايد لرونکي اقتصادي ځواک په توگه به ظهور وکړي.

په چين کې د فعال اقتصادي پرمختگ او لاسته راوړنو په اړه يو مروج مشهور فورمول دی: که غواړې شتمن شې او اقتصاد مو وده وکړي، پر اساسي تاسيساتو سربېره د منظمو لارو او کرښو جوړول او د فعال ترافيکي سيستم درلودل ډېر اړين دي. که موږ په چين کې يوازې د يو کال په موده کې د لارو جوړول وگورو، څه باندې پنځه ميليونه کيلومتره سفالتې سړکونه او ۳۵۰ زره کيلومتره د ريل پټلۍ جوړ شوي دي. اغېز او رول يې په بدن کې د رگونو په څېر ارزښتمن دي او همداسې لارې د يو هيواد د اقتصاد لپاره هغومره د لوړ حياتي ارزښت درلودونکې دي.

چين د خپل ديارلسم پنځه کلن پلان په ترڅ کې تر ډېره تمرکز د بېوزلۍ او بېکارۍ په له منځه وړلو او د لازمو شغلونو په ايجادولو ساتلی و، د وزگارتياوو سطحه يې تر وروستۍ کچې ټيټه ساتلې ده، د دومره لوړې بشري قوې بوختېدنه او پر حرکت راوستنه د اقتصادي دوران قوت په څو برابره لوړولو کې تاثير درلودلی دی، يادې موخې ته په رسېدو کې يې له خپل هيواد سره همکاري او مرسته کړې ده. د ۶۹ کلونو په ترڅ کې اته سوه ميليونه وگړي يې د بېوزلۍ له حالت څخه په وتلو توانېدلي دي او د خودکفايۍ سطحې ته پورته شوي دي، د ۹۰ سلنه بشري فقر ريښې يې په اساسي توگه ايستلې دي.

وخت ډېر مهم دی، د چا انتظار او پروا نه کوي، بختور هغه دي چې له وخته يې مناسبه او د چارو جوړولو، په ښه والي او سمون کې لازمه، اعظمي استفاده کړې ده. د ۲۰۲۱ کال په پيل سره چين د پرمختگ يو بل پلان وړاندې کړ، څوارلسم پنځه کلن پلان د چين لپاره بيا هم بې شمېره سترې پرمختياوې په مخ کې لري، مخکې له دې چې د چين څوارلسم پرمختيايي پلان په اړه خبرو ته لاړ شم، لومړی غواړم د تير ديارلسم پرمختيايي پلان څو لاسته راوړنو ته تم او ځغلنده کتنه کوم بيا د څوارلسم پرمختيايي پلان په اړه څو خبرې.

لومړی؛ د تېر ديارلسم پنځه کلن پلان عمده لاسته راوړنې:

هيوادونه د خپلو پرمختيايي چارو د ښه تنظيم او ترتيب لپاره له مهالوېش سره سم دقيق او اغېزمن پلانونه سنجوي او جوړوي، خپلې انکشافي موخې او ټاکلي کارونه په پلانونو کې شاملوي. د چين واکمن کمونېست گوند د نولسمې دورې مرکزي کمېټې پنځمه عمومي درې ورځنۍ ناسته چې د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر له ۲۶مې تر ۲۹مې پورې په پلازمېنه بېجينگ کې د څه باندې ۳۰۰ غړو په گډون رابللې شوې وه. د ټاکلي کاري اجنډا له مخې، لومړی يې د ديارلسم پنځه کلن پلان پايلې وارزولې او د څوارلسم پنځه کلن پلان تصويبولو باندې گټور بحثونه، سلامشورې، د نظرونو تبادلې، وړانديزونه مطرح او شريک کړل.

له ۲۰۲۱ کال څخه تر ۲۰۲۵ کال پورې د چين د پرمختگ پلان (څوارلسم پنځه کلن پلان) او تر ۲۰۳۵ کال پورې د چين اوږدمهاله پرمختيايي هدفونه تاييد او تصويب کړل، په دې توگه د هيواد لپاره د اقتصادي او ټولنيزې ودې په موخه پنځه کلن هدفونه وټاکل.

د بېوزلۍ په برخه کې د چين بېلابېل اغېزمن تدبيرونه او تجربې د زده کړې او د پام وړ دي. د ځينو هغو يې دلته په لنډون يادونه کوو: يوازې د تېر ديارلسم پنځه کلن پلان په ترڅ کې په چين کې ۳۵ زره نوي رهايشي ښارگوټي يانې دوه ميليونه شپږ لکه شپېته زره نوي کورونه جوړ شوي دي او په څه باندې نهه ميليونه او شپږ لکه بېوزلو کورنيو باندې وېشل شوي دي. په زرگونو کيلومترو لارې جوړې شوي دي. په تېرو پنځو کلونو کې په ښارونو او لرې پرتو سيمو کې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او زياتوالي اندازه شپېته ميليونه وه او څه باندې ۹۵ سلنه وگړي د روغتيايي بيمو د خدماتو تر پوښښ لاندې راوستل شوي دي.

دويم؛ اوسنی څوارلسم پنځه کلن پرمختيايي پلان:

د پنځو کلنو پرمختيايي پلانونو موخه او هدف معمولاً تر ډېره د خلکو ژوند ښه کولو او جوړولو سره تړاو لري، د خدماتو عرضه يې په ټوله کې د ټولگټو او بنسټيزو کارونو تر سره کولو سره تړلې ده او متوازن پرمختگ پکې يو اساسي اصل وي. د پنځو کلنو پلانونو په لړ کې د چين حکومت د وگړو د ښه ژوند د تامين لپاره د کارونو رامنځته کولو لپاره د پام وړ پلانونه عملي کړي دي، تاثيرات او اغېزې يې د خلکو په ژوند کې او د هيواد په اقتصادي وده کې محسوسې او د پام وړ دي. په راتلونکو پنځو کلونو کې به د کار بازار ورسره لا وغوړېږي، دا چې د نړۍ او سيمې لپاره به يې اغيزې څه وي، په لنډون سره ورته دلته اشاره کوم:

لومړی؛ د چين کمونېست گوند د نولسمې دورې مرکزي کمېټې د پنځمې عمومي غونډې له ناستې وړاندې د مرکزي کمېټې غړو له بېلابېلو ځايونو څخه هغه که لوی ښارونه وو يا لرې پرتې سيمې وې، د ليدنو، پلټنو او موندنو په ترڅ کې له خلکو سره د مخامخ خبرو ناستو او همدارنگه په انلاين توگه د وگړو د غوښتنو، اړتياوو او وړانديزونو د راټولولو لپاره کړکې جوړه او پرانيستې وه، څو د عام ولس په خوښه او له غوښتنو سره سم د ژوند د ښه والي په برخو کې گټور ټولشموله پلان جوړ او رامنځته کړي، کوم چې د چين راتلونکي پرمختگ کې به مهم اغېز او ځای ولري. ښوونه او روزنه، لوړې زده کړې، ساينس، تخنيک، طب او روغتيا، کرنه او مالداري، لارې او سړکونه، ريل پټلۍ او د رهايشي ښارگوټو جوړول به تر ډېره د پاملرنې وړ او د تمرکز برخې اوسي.

دويم؛ د چين د اقتصاد پر وړاندې عمده ستونزې حل او تر ډېره له منځه تللو په حال کې دي او اوس يې په ختيځو او لوېديځو برخو کې په ښارونو او کليوالو سيمو کې د پرمختگ حالت تر فوکس او پاملرنې لاندې دی، د همدې لپاره نوي فرصتونه ايجاد او رامنځته شوي دي. د بېلگې په توگه، له ۲۰۱۵ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې په ټول چين کې د ښاري کېدنې انډول ۴.۵ سلنه دی، کابو سلو ميليونو وگړو ته له کليوالو سيمو څخه ښارونو ته د لېږد زمينه مساعده شوې ده او په دې توگه د منځنيو عايد لرونکو مشتريانو او مصرفوونکو بازار وسعت موندلی او دا دې اقتصادي پرمختگ لپاره يوه مثبته نښه او ښه اشاره ده.

درېيم؛ په اوسني وضعيت کې د نړۍ ځينې هيوادونه لگيا دي چې د خپلو شخصي سليقو او غوښتنو پر اساس يو اړخيز عمل کوي او له خپلې خوښې سره سم محدوديتونه وضعه کوي، کوم چې د ازادې سوداگرۍ له روپې سره ښکاره په ټکر کې دي او د سوداگريز اصطحکاک د ژوروالي سبب گرځېدلي دي، د اندېښنې وړ دي، د همدغسې کشمکشونو په حال کې د ډېرو هيوادونو اقتصادونه مخ پر ځوړ روان دي. يوازې د چين اقتصادي لوړوالی د مثبت تمايل په حال کې دی او ورته تر ډېره د ټولو سترگې او تمې دي. د نړيوال اقتصادي بحران په مخنيوي کې ترې دې ډېر څه کولو توقع کيدلی شي.

د چين څوارلسم پنځه کلن پلان په لړ کې به د عامو وگړو د ژوند او په ټوله کې د اقتصاد لوړوالي يو لوړ او مهم هدف اوسي، د اصلاحاتو او ورخلاصون پر تگلارې باندې ټينگار به يوه دوامداره لړۍ وي، له نړۍ سره د لا همغږۍ، دوستۍ، همکاريو او صميميت شبکه به فعاله وي او د تقويت او پراختيا لپاره به يې لا کار کيږي. د توليداتو، عرضه، تقاضا او د پېر او پلور اړيکو ټينگښت او لا پراخوالي لپاره به د لازمو فرصتونو رامنځته کولو لپاره هڅې او کوښښ کيږي او دا به د گډو گټو، شراکت د مېکانېزم په چوکاټ کې راغونډېږي او ورته به لا وده ورکول کيږي.

د ځينو يادونه يې په لنډون سره دلته را اخلم:

د اقتصادي ودې په ترڅ کې د نويو زېربناوو، د ټولگټو تاسيساتو او د سترو پروژو لړۍ به روانه ساتل کيږي. د اقتصادي ودې له دايرې بيرون نا استفاده شوې، ناڅرگندې او پټې وړتياوې به رابرسېره کيږي او تر استفادې لاندې به راوستل کيږي. د داخلي بازارونو له پياوړتياوو به ملاتړ زياتيږي او اقتصادي جوړښت کې به لا اغېزمنې اسانتياوې رامنځته کيږي. د نوښتونو، وړتياوو رابرسېره کول به هڅول کيږي او ورته لا پرمختگ به ورکول کيږي. صنعتي بنسټونه به پر نوې ټکنالوژۍ باندې سمبالېدنې ته زمينه مساعديږي، د سرعت، دقت او کيفيت په موخه به له صنعتي ځنځير سره د نوې او مډرنې ټکنالوژۍ د اړيکو رول ته زياتوالی ورکول کيږي. له زراعتي بنسټونو ملاتړ ته به پراختيا ورکول کيږي. په ښارونو او کليو کې به د برابر، متوازن او همغږي پرمختگ لارو چارو جوړونې ته پاملرنه کيږي. د اقتصادي سيستم د نوي کېدو بهير به له پرمختگونو برخمنيږي. د اصلاحاتو او ورخلاصون بهير به په سرعت سره مخ پر وړاندې بېول کيږي، په بازارونو کې د سالم رقابت لپاره به د فرصتونو په رامنځته کولو او زياتولو تمرکز ساتل کيږي.

په چاپېريال ساتنې او پرمختگ کې به د نويو ځرگندو لاسته راوړنو رامنځته کولو لپاره هڅې کيږي. له ځمکو څخه د استفادې او ساتنې لارو چارو ته به لا منظموالی او پياوړتيا ورکول کيږي. توليدي چارې به داسې جوړې او عيارېږي چې چاپېريال ته زيان او صدمه ونه رسيږي. دغه راز بايد د ټولنيز ژوند په طريقه او عادتونو کې چې د چاپېريالي ککړتياوو لامل گرځي بدلون، د اصلاحاتو راوستل اړين او يوه مهمه اړتيا ده. د ککړتياوو د کمښت او مخنيوي په موخه به د اغېزمن سيستم رامنځته کول هڅول کيږي، څو په مسلسل ډول د محيطي ککړتياوو اندازه کمه او کنټرول کړی شي. په ژوند کې د اسانتياوو لوړوالی بايد يو له عمده لومړيتوبونو څخه اوسي، داېمن کاري فرصتونه بايد برابر او رامنځته شي، د اتباعو عايداتو او د هېواد اقتصادي ودې او متوازن انکشاف لپاره به لا په قوت سره کار کيږي او د بېوزلۍ له منځه وړلو بهير به پر يو دايمي او دوامداره خوځښت او جريان باندې بدليږي.

د ښې او اغېزمنې حکومتوالۍ رامنځته کول، د تقنيني سيستم پياوړتيا او شفافيت په داېمن ټولنيز عدالت تامينولو کې مرسته کوي، د حقوقو خونديتوب او د برابرۍ لپاره به د اصلاحاتو لړۍ يو دوامداره اصل اوسي، دا هغه څه دي چې د ښې حکومتوالۍ د اغېزو او هم د ولس باور پياوړتيا او لوړوالي کې تر ډېره عمده رول او تاثير لري.

د خطرونو مخنيوی، د بېړنيو پېښو پر وړاندې د بيدارۍ او وړتياوو د لوړولو لپاره به لازم کارونه کيږي، په دې توگه د طبعي پېښو د مخنيوي او مبارزې سويې په لوړوالي او ښه والي کې به د پام وړ زياتوالی راوستل کيږي.

د څوارلسم پنځه کلن پلان په موده کې به د پاکې دوامداره انرژۍ انقلاب د عموميت لپاره په قوت سره کار کيږي، د شين او دوامداره پرمختگ اصل به په صنعتي چارو کې يو له لومړيتوبونو اوسي، په دې توگه له چاپېريال ساتنې ملاتړ به يوه دايمي دنده او مسووليت گرځي.

د اټکل له مخې، د چين اقتصادي توليدي ارزښت به تر ۲۰۲۵ کال پورې دوولس زره ميليارده يوان (دوه زره ميليارده ډالره) ته ورسيږي، دا به د وگړو کلنې سر عايد اته سلنه برخه جوړه کړي، تر ۲۰۳۵ کال پورې به د وگړو کلنې سر عايد څه دپاسه لس سلنې ته لوړ شي. په راتلونکې کې به اقتصادي پرمختگ په عمده توگه د شين پرمختگ پر ټکنالوژۍ ولاړ اوسي. د شين پرمختگ لارو چارو ته به د يو مهم اساس او اصل په توگه وکتل شي، د چاپېريال ککړتيا او د اقليمي بدلون مسئله د ډېرو هيوادونو لپاره اوس يوه ستونزه ده او د پام وړ مسئله گرځېدلې ده، د مخنيوي په اړه يې اقدامات گډو او نړيوالو همکاريو ته اړتيا لري. چين د چاپېريال مسئلې په اړه هڅاند او جدي دی، په دې برخه کې يې غوره او گټور تخنيکونه، تجربې او نظريې وړاندې کړې او شريکې کړې دي. پاکې او رڼې اوبه، زرغون سمسور غرونه په هر ځای کې د ټولو لپاره مهم او ارزښتمن دي. د انسانانو او طبيعت تر منځ د هوساينې، د ټولنيز ژوند مډرنيزه کولو، جوړولو او ابادولو کې يې ونډه مهمه او گټوره ده. د چين واکمن گوند د نولسمې دورې مرکزي کمېټې پنځمه غونډه کې د اقليمي بدلون د مخنيوي په اړه مشخص هدفونه ټاکل شوي دي، دا نه يوازې د چين د منظم پرمختگ لپاره ډېر مهم او گټور دی، بلکې د يوې خوندي پاکې او سمسورې نړۍ د جوړولو په لوري د گامونو پورته کول دي.

داوې د چين د څوارلسم پنځه کلن پرمختيايي پلان ځينې هغه موخې چې هر هيواد يې د خپلې ښې او پياوړې راتلونکې، د داېمنې بسيا، مرفع او سعادتمندې ټولنې د جوړونې لپاره د يو زيارکښه، زحمتکښه، هوډمن ملت او هيواد په توگه د مضبوطو گامونو اخيستلو او پورته کولو لپاره ټاکلی او غوره کولی شي.

دا نړۍ زموږ ټولو شريکه ده او گډ کور مو دی، سلامتيا او ابادي يې د هر تن او ټولو دنده ده. پر هر تن او ټولو برابر حق لري. راځئ په گډه د يوې خوندي، سوکاله، سالمې، ښکلې او ابادې نړۍ لپاره کار وکړو! د بشر گډ برخليک ټولنې د جوړولو شعار په عمل کې پلی او تر سره کړو!

# د بين الافغاني مذاکراتو دويم پړاو؛

## افغان حکومت: پلاوی له بشپړ ملاتړ برخمن دی، لومړی بايد اوربند وشي



د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی د دويم پړاو مذاکراتو د پيل لپاره دوحې ته تللی دی. ټاکل شوې وه چې پلاوی وړمه ورځ دوحې ته لاړ شي او پرون مذاکرات بايد پيل شوي وای، خو د هوا د خرابوالي له امله سفر ځنډېدلی و. ارگ وايي چې په مذاکراتو کې بايد تر هر څه وړاندې پر اوربند خبرې وشي، سره له دې د ملي مصالحې عالي شورا هم دا تمه لري چې په دې پړاو کې مذاکرات د جگړې د پای ته رسېدو سبب شي. له دې سره جوخت زلمی خليلزاد کابل ته راغلی و او دلته يې د سولې په تړاو له گڼو سياسي څېرو سره ليدلي دي.

د لومړي پړاو مذاکراتو تر پای ته رسېدو وروسته د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرو کې لنډه دمه راغله او اوس د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی دوحې ته تللی چې له طالبانو سره دويم پړاو مذاکرات پيل کړي. د پلاوي مشري معصوم ستانکزی کوي او دوحې ته تر تگ مخکې يې د ملي مصالحې عالي شورا په غونډه کې هم برخه اخيستې ده. د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ غونډه وړمه ورځ ماښام مهال جوړه شوه او ډاکټر عبدالله عبدالله وايي، په دې غونډه کې له مذاکراتي پلاوي غوښتل شوي چې پر اوربند خبرې وکړي. هغه همدا راز وايي، مذاکراتي ټيمونو ته يې ډاډ ورکړی چې د افغان حکومت بشپړ ملاتړ له ځان سره لري او بايد د افغانانو له دريغ دفاع وکړي. همدا راز يې ژمنه کړې چې تخنيکي ټيمونه به د مذاکراتو د پرمختگ لپاره اړينو او مهمو مرستو ته تيار وي. د ده په خبره: ((موږ دا واضح کړه چې د مذاکراتو له پيله له د رهبرۍ کمېټه او تخنيکي ټيمونه منظمې جلسې ولري. د اړتيا په صورت کې به مذاکراتي ټيم ته پر وخت رغوونکې او حمايتي مشورې ورکړي)).

بلخوا افغان حکومت وايي چې مذاکرات بايد د جگړو د پای ته رسېدو سبب شي او مذاکراتي پلاوی به په دويم پړاو کې پر اوربند او د جگړې پر ختمېدو بحث کوي. د ولسمشر وياند په يوه ټوېټ پيغام کې ويلي، مذاکراتي پلاوی دوحې ته تللی او د حکومت بشپړ ملاتړ له ځان سره لري. د ده په خبره: ((ياد پلاوی د افغان دولت او خلکو بشپړ ملاتړ له ځان سره لري او د افغانانو لومړيتوب ژر تر ژره د تاوتريخوالي درېدل، اوربند او تلپاتې سولې ته رسېدل دي)).

بلخوا امريکا هم پر دې ټينگار کوي چې په دويم پړاو مذاکراتو کې بايد په افغانستان کې روان تاوتريخوالی پای ته ورسېږي. د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خليلزاد په يوه ټوېټ پيغام کې ويلي، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ دويم پړاو مذاکرات پيلېدونکي دي او د دې تمه ده چې دغه مذاکرات د روانې جگړې د ختمېدو او اوربند د تامين سبب شي. هغه همدا راز ټينگار کړی چې مذاکرات دې په چټکۍ يوې پايلې ته ورسول شي. هغه په کابل کې له پخواني ولسمشر حامد کرزي، د ملي مصالحې عالي شورا له رييس ډاکټر عبدالله عبدلله او له سياسي شخصيت عبدالرب رسول سياف سره کتلي دي. په دې ليدنو کتنو کې يې د روانې جگړې پر ختمېدو او سولې خبرې کړې دي. له ډاکټر عبدالله عبدالله سره د ليدنې پر مهال خليلزاد ويلي چې په دويم پړاو مذاکراتو کې بايد د اوربند پر کمولو توافق وشي او تاوتريخوالی دې کم کړل شي.

ډاکټر عبدالله عبدالله ويلي چې د سولې له خبرو سره هممهاله روان تاوتريخوالی د جدي اندېښنې وړ دی او طالبانو ته په کار ده چې له جگړو لاس واخلي او تاوتريخوالی کم کړي. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم له خليلزاد سره د خبرو پر مهال ويلي چې خبرې بايد د سولې سبب شي او دلته دې د روانې جگړې د پای ته رسېدو لپاره اغېزناک گامونه اوچت کړل شي. هغه هم اوسنی تاوتريخوالی د اندېښنې وړ بللی دی.

## ټرمپ: په افغانستان کې مو ۱۹ کلن حضور بسنه کوي، نور ترې راوځو



په ولسمشريزو ټاکنو کې د جو بايډن له بريا وروسته، لاهم ډونالډ ټرمپ پر خپل دريځ ولاړ دی او يو ځل بيا يې ويلي چې له افغانستانه به خپل سرتېري باسي.

ټرمپ په جورجيا ايالت کې د وينا پر مهال ويلي، چې په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو ۱۹ کلن شتون بسنه کوي او نور بايد دا ځواکونه خپل هېواد ته راستانه شي.

هغه زياتوي: «موږ ۱۹ کاله په افغانستان کې وو، موږ خپل سرتېري له هغه هېواده بېرته راغواړو، هغه هېواد چې ستاسو له ډلې ځينې به ورسره نا اشنا ياست. موږ به ټولو ته ماته ورکوو، داسې تجهيزات، خلک او سرتېري لرو چې بل څوک يې نه لري. زموږ سرتېري د دې لپاره نه دي چې هغوی دې په افغانستان کې د پوليس دنده ترسره کړي، هغوی جنگيالي او مبارزين دي چې ډېری يې خپلو کورونو ته راغلي.»

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ له دې وړاندې هم څو ځله له افغانستانه د خپلو سرتېرو په ايستلو ټينگار کړی و. په ورته مهال، په دوحه کې د فبروري په ۲۹مه د امريکا او طالبانو ترمنځ د شوي هوکړې پر بنسټ بايد تر راتلونکو څلورو مياشتو له افغانستانه ټول امريکايي سرتېري ووځي.

که څه هم افغان حکومت په دې اړه څه نه وايي، خو دوې مياشتې وړاندې يې د دوه زره امريکايي ځواکونو د وتلو په غبرگون کې ويلي وو چې افغان امنيتي او دفاعي ځواکونه د هېواد بشپړ امنيت ساتلو ته چمتو دي، خو يو شمېر پوځي کارپوهان وايي، د افغان امنيتي ځواکونو د ظرفيت او امکاناتو لوړولو برخه کې بنسټيز کارونه نه دي شوي.

د يادونې ده چې له دې وړاندې د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار حمدالله محب ويلي وو چې اوسمهال ۹۶ سلنه عمليات د افغان امنيتي ځواکونو له لوري ترسره کېږي.

## سناتوران: امريکا دې په افغان سوله کې له دوه گوني چلند ډډه وکړي

د مشرانو جرگې ځينې غړي د افغان سولې بهير په برخه کې امريکا پر دوه گوني چلند تورنوي او هيله ښرگندوي چې د سولې خبرو دويم پړاو به د سولې ټينگښت په برخه کې لاسته راوړنې ولري.

دا په داسې حال کې ده چې د افغان دولت مرکچي پلاوی د بين الافغاني خبرو دويم پړاو لپاره قطر ته تللی دی. د مشرانو جرگې په پرونۍ ناسته کې په همدې تړاو خبرې وشوې.

د دې جرگې غړي کامل بېگ حسيني قطر ته د افغان مرکچي پلاوي تلو په اړه وويل: «هيله من يو چې د خبرو دغه پړاو به د مخکې په پرتله توپير ولري او د افغان دولت مرکچي پلاوی به د خلکو لپاره لاسته راوړنې ولري.»

د جرگې بلې غړې انارکلي هنريار هم د سولې خبرو دويم پړاو پيلېدو د ملاتړ ترڅنگ هيله ښرگنده کړه چې د خبرو په دغه پړاو کې به اوربند وشي.

هنريار وايي، د اوربند اعلان پر دغه بهير د باور او په هېواد کې د وينې تويېدنې پای ته رسېدو لامل کېږي او د دواړو لورو پلاوي بايد د افغانانو وينې تويېدو د مخنيوي لپاره پر اوربند موافقه وکړي.

په ورته مهال د مشرانو جرگې رييس فضل هادي مسلميار هم هيله وښوده چې د خبرو دغه پړاو به د افغانستان خلکو د خير او غوښتنو (اوربند) پوره کېدو او سولې لامل شي.

د نوموړي په خبره، اوربند د وينې تويېدو مخنيوي او په ارامه فضا کې د خبرو له ترسره کېدو سره مرسته کوي. هغه د افغان دولت له مرکچي پلاوي وغوښتل چې په خبرو کې له اساسي قانون، ارزښتونو، د هېواد له امنيتي او دفاعي ځواکونو په کلکه دفاع وکړي.

بلخوا د جرگې ځينو غړو امريکا د افغان سولې بهير په برخه کې پر دوه گوني چلند تورنه کړه. د مشرانو جرگې لومړي نايب فيصل سميع وويل، امريکا له يوې خوا د افغان دولت او بلخوا له طالبانو ملاتړ کوي.

هغه زياته کړه: «امريکا بايد د افغان سولې بهير په اړه واحد سياست ولري او د دښمنانو له ملاتړه لاس واخلي.»

هغه له امريکا وغوښتل، د افغانستان په اړه دې دوه گونی سياست پای ته ورسوي؛ ځکه د ده په خبره، طالبانو اوس هم تاوتريخوالی پای ته نه دی رسولی.

د نوموړي په خبره، له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتل بايد مسوولانه او د دغه هېواد د وضعيت مطابق وي.

دی وايي، امريکا بايد پر طالبانو فشار راوړي چې له ترهگرو ډلو سره خپلې اړيکې پرې کړي او اوربند وکړي، څو په افغانستان کې د وينې تويېدو بهير پان ته ورسېږي.

## اروپايي ټولنه: په لوړه کچه د يورانيمو غني کول به ايران ته ناوړه پايلې ولري

اروپايي ټولنې خبرداری ورکړی، چې د ايران له خوا د ۲۰ سلنه يورانيمو غني کول به د ۲۰۱۵ز کال له اټومي تړون څخه ښکاره سرغړونه وي.

يادې ټولنې د ايران له خوا د ۲۰ سلنه يورانيمو د غني کولو پر زياتولو اندېښنه ښودلې او ويلي يې دي چې تهران په داسې اقدام سره له هغو ژمنو سرغړونه کوي، چې شپږکاله مخکې يې په اټومي تړون کې کړې وې.

د اروپايي ټولنې وياند پيټر سټانو ويلي، دوی انتظار کوي چې د اټومي انرژۍ نړيوال سازمان د ايران د يورانيمو د غني کولو په اړه خپل راپور وړاندې کړي.

سټانو زياته کړې: «که ايراني چارواکي له دغه اعلان سره سم اقدام وکړي، دا به له اټومي تړون څخه د ايران سرغړونه وگڼل شي، چې د اټومي وسلو د پراختيا د منع کولو په برخه کې به ناوړه عواقب ولري.»

د ۲۰۱۵ز کال اټومي تړون له مخې، ايران د لږو يورانيمو د غني کولو اجازه درلوده، چې خالص والی يې له دريو تر پنځو سلنې ته رسېږي او له هغو په سوداگريزو اټومي بټيو کې استفاده کېدای شي، خو له ۲۰ سلنه يورانيمو په اټومي وسلو کې هم کار اخيستل کېږي، چې همدې موضوع د نړيوالو اندېښنې پارولې دي. په ورته مهال د ايران د دولت وياند علي ربيعي ويلي چې هېواد يې په فردو تاسيساتو کې د ۲۰ سلنه يورانيمو د غني کولو چارې پيل کړې دي.

د يادونې ده چې د ايران او د نړۍ د شپږو پياوړو هېوادونو؛ د امريکا متحدو ايالتونو، برېټانيا، فرانسې، روسيې، چين او جرمني ترمنځ اټومي تړون د ۲۰۱۵ز کال په جون مياشت کې لاسليک شوی و. ايران د ځينو نړيوالو اقتصادي بنديزونو د لرې کېدو په بدل کې خپل اټومي فعاليتونه او د يورانيمو غني کول محدود کړي وو. خو






د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ۲۰۱۸ز کال کې له دغه تړون څخه ووت او پر ايران يې بېرته سخت بنديزونه ولگول. اوس د امريکا نوي منتخب ولسمشر جو بايډن چې په څو ورځو کې به لوړه کوي، ويلي چې که ايران اصول رعايت کړي، د باليستيک توغنديو پروگرام ختم کړي، د سيمې په نيابتي جگړو کې د افراطي ډلو له ملاتړه لاس واخلي، واشنگټن تيار دی، چې يو وار بيا اټومي تړون ته ستون شي.

## د کتـــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### څلورمه برخه
### کابوکي




۱۴

### هند او پاکستان: تقریباً دوستان

خدا زده ۱۹۸۰ که ۱۹۸۱ کال و، په IB «د هند د کورنیو استخباراتو ادارې» کې یو مشر همکار «وینود کاول» ور وغوښتم. وینود تر ما په لاندې منزل کې په «ار کې پورام» کې زموږ په دفتر کې کېناست. کاول هم په هغه ځای (راجستان) کې روزل شوی و چې زه پکې روزل شوی وم، خو دی تر ما ډېر مشر و. په دې وروستیو کې زه مرستیال رئیس شوی وم. دی د پاکستان په شمول د ځینو ځانگړو موضوعاتو ستر شنونکی و. د کېناستو اشاره یې را ته وکړه، بیا یې ویل: «ته دا پاکستانیان ښه پېژنې؛ مرسته به راسره و نه کړې؟»

زما حواس والوتل، ور ته و مې ویل: «ښښنه غواړم ښاغلیه، تاسو لکه چې سم نه یاست پوه شوي. زه له یوه پاکستاني سره هم نه پېژنم. که ربښتیا درته ووایم، نو زه له دې پاکستانیانو لرې گرځم».

ده راته وویل: «د پاکستان د کونسل په کور کې ستا د موټر د نمبر پلېټ همدغه یادښت اخیستل شوی دی، هلته یوه مېلمستیا وه، ته هم پکې وې.»

ما انکار وکړ، و مې ویل: «زه کومې داسې مېلمستیا ته نه یم تللی.» ده را ته پر دې خبره د بیا غور وویل. پسې زیاته یې کړه: «ستا د والدینو له ځینو پاکستانیانو سره خوږه دوستي ده؟» ور ته و مې ویل: هو! دا ربښتیا وه.

ما داسې گومان وکړ چې ښایي زما له کوره چا زما موټر غلا کړی وي. زه په «کیدوای نگر» ښارگوټې کې اوسېدم. کور ته لاړم، له مېرمنې مې پوښتنه وکړه چې موټر خو به یې چا ته امانت نه و، ورکړی؟ ځکه د پاکستان په یوه مېلمستیا کې زما موټر لیدل شوی دی. موټر یې چا ته نه و ورکړی. مېرمن مې پوښتنه وکړه، مېلمستیا چېرته وه؟

و مې ویل: «وه زما خدایه! په «واسانت ویهار» کې.» د دغه پاکستاني کور ته نږدې زما یو اوښی په یوه روغتون کې بستر و، اوښي مې ټکر کړی و، نو حتماً به زموږ موټر هلته نږدې چېرې دربېدلی و او دوی به یې نمبر پلېټ یاداشت کړی و.

پاتې شوه د کاول هغه پوښتنه چې زما د والدینو په تړاو وه. دوی د ډیلي په «تیلاک مارگ» کې په «ساگر اپارتمان» کې اوسېدل. دغه اپارتمان «پاکستان هاوس» ته څېرمه و. زما د والدینو له «بریج» لوبې سره ښېخې جوړه وه، د دوی د استازو هم له دې لوبې سره ډېره لگېده. دوی به اکثره زما د والدینو په کور کې دغه لوبه کوله. کله کله به یې «جیم» ته هم سر ور ښکاره کاوه. لومړنی استازی «سید فدا حسن» و، دی په ۱۹۷٦ کال کې سفیر مقرر شوی و، زما د پلار پخوانی انډیوال و. دواړو پوځې زده کړې په پنجاب کې کړې وې او په سیالکوټ کې یې عسکري کړې وه. دی چې ډیلي ته راغی، په خپلو پخوانیو انډیوالانو پسې یې لټون پیل کړ، زما پلار یې په خپل گاونډ کې وموند.

په دې پسې عبدالستار سفیر شو. دی هم د «بریج» شوقي و. د لوبې لپاره به ساگر اپارتمان ته ورخوشې و. دغسې شپږ کاله سر په سر زما والدینو له پاکستاني استازو سره راشه درشه درلوده. دوی ته ټول یو شان پنجابیان ښکارېدل.

سېنها: بریج د دوی ترمنځ پل شوی و. د دوی په ناستو کې نور کوم مشهور لوبغاړي و؟

دولت: بل کس نوموتی هندي ډیپلومات «سمر سین» و (چې په تینو سین مشهور و.) دی یو پخوانی (ICS) و، دی په ډاکه کې زموږ عالي کمېشنر او همالته پر اوړه لگېدلی و. دی «بینډاس» و، یو عجب مامور و، کلونه کلونه یې خدمت کړی و خو بیا یې هم هېڅ نه درلودل.«ستار صېب» یو ځل «فقیر» وباله. لکه د یوه مسافر غوندې ژوند یې کاوه، موټر یې نه درلود، په ټکسي کې به تلو راتلو. څو کاله وروسته هغه ته پته لگېدلې وه چې زه د کشمیر په مسئله کې دخیل شوی یم، زه یې کلب ته ور وغوښتم، را ته یې کړه: «ته هم د دغو خونخوارو بازانو له ډلې یې؟ سمه ده موږ به معمره خلکو غوندې خبرې وکړو.»

دورانی: دا ما ته د لالو کیسه را یادوي. دی په ۲۰۰۳ کال کې پاکستان ته راغی. پر خلکو یې اغېز واچاوه، ځکه ده د عوامو غوندې چلند کاوه او د خلکو په ژبه یې خبرې کولې. دی به په بازار کې روان و، یو کچالو به یې راپورته کړ، و به یې ویل:

«Lalu ke haath mein alu»

مطلب د لالو په لاس کې کچالو. خلک به پرې ور مات شول.

زه چې ترې ډېر اغېزمن شوم، هغه مو یو ټلوېزیوني بحث درلود. درې پاکستانیان و او لالو و. په موږ کې د یوه تن تر خولې لاړې بادېدې، ویل یې: «ما ته پته نشته چې د کشمیر په تړاو د هند پالیسي څه ده؟» خو د هوښیار لالو له خولې د پالیسي په تړاو یوه کلمه هم را و نه وته. دی پوهېده چې که د پالیسي په تړاو خبرې وکړي، نو پر بحث به درونډ سیوری وغوړېږي او د خولو خوندونه به خراب کړي. بلاخره لالو ډېر په ورو، وویل: «د هند پالیسي دا ده چې کشمیر یې نه بېلېدونکې برخه ده.» زموږ پر خوا ولاړ پاکستاني سړي اوبه تویې شوې.

د لالو په ځنډ ځواب را ته ویل چې دی پوخ سیاستمدار و، له احساساتو یې کار نه اخیست او د سولې او همکارۍ پیغام یې لېرداوه. ده به نو ولې د رسمي پالیسۍ په تړاو خبرې کولې چې کېدای شي خبرې نورې هم پېچلې کړي؟ **دوام لري...**

# ځان مه محدودوئ!

اکسوس کتابپلورنځي




«ځان مه محدودوئ» کتاب چې انگرېزي نوم یې «No Limits» دی، د مشهور امریکایي روزونکي، وینااوال او د رهبرۍ د برخې متخصص جان سي مکسوېل اثر دی چې تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. یاد کتاب جواد تیموري پښتو ته ژباړلی او د اکسوس کتابپلورنځي لخوا په ښه کیفیت چاپ شوی دی. د دغه کتاب پښتو بڼه ټولټال ۳۲٦ مخونه لري او په ۲۰ څپرکو کې راټول شوی دی.

دا کتاب په ټوله کې په درېو مسایلو بحث کوي؛ په لومړۍ برخه کې یې د انسان لپاره د پوهې پر اړتیا بحث او خبرې کېږي، په دویمه برخه کې پر انساني وړتیاوو خبرې کېږي او دغه راز په درېیمه برخه کې هم د انسان په ژوند کې د انتخابونو پر ارزښت بحث کېږي. مکسوېل په دغه کتاب کې د انساني وړتیاوو، بریالیتوبونو او په ژوند کې د انتخابونو پر ارزښت خبرې کړې او په ټوله کې د بریا لپاره یې ځینې فورمولونه هم راوړي دي. پر دې سربېره، نوموړي په دغه کتاب کې د خپل ژوند بېلابېلې تجربې او هغه واقعي کیسې او داستانونه هم راوړي، چې بېلابېلو هېوادونو ته د سفر او هلته له بریالیو رهبرانو سره د لیدنو کتنو پر مهال ورسره مخ شوی دی.

مکسوېل پورتني موضوعات د یاد کتاب په ۲۰ څپرکو کې راټول کړي دي. د کتاب په لومړي څپرکي کې پر هغو خنډونو او مسایلو بحث کېږي چې د انسان ژوند محدودوي. په دویم څپرکي کې یې له دغه محدودیت څخه د راوتلو لارې چارې بیان کړې دي. د کتاب په درېیم څپرکي کې پر انساني ځواک پوره بحث کوي. په څلورم څپرکي کې یې د انسان د عاطفي وړتیاوو په تړاو خبرې کړې. نوموړي پنځم څپرکی فکري وړتیاوو ته ځانگړی کړی او په شپږم څپرکي کې یې د اړیکو وړتیا اړوند مسایل راوړي دي. پر دې سربېره، مکسوېل د یاد کتاب په اووم څپرکي کې د نوښت پر وړتیا بحث کوي، اتم څپرکی یې د تولید وړتیا او نهم څپرکی یې د مشرۍ وړتیا ته ځانگړی کړی دی. لیکوال د یاد کتاب په لسم څپرکي کې پر انتخابونو، په یوولسم څپرکي کې د مسوولیت پر وړتیا، په دوولسم څپرکي کې پر شخصي وړتیا، په دیارلسم څپرکي کې د ډېرښت پر وړتیا، په څوارلسم څپرکي د نظم پر وړتیا، په پنځلسم څپرکي کې د موخې پر وړتیا، په شپاړسم څپرکي کې د دریځ نیولو پر وړتیا، په اوولسم څپرکي کې د گواښ منلو پر وړتیا، په اتلسم څپرکي کې د ملگرۍ پر وړتیا او په شلم څپرکي کې له محدودیت پرته د ژوند کولو په اړه په مفصل ډول بحثونه کړي دي.

دا کتاب پر محصلینو او کاروباریانو سربېره، د ټولنې له هر وگړي سره مرسته کولی شي، څو خپلې پټې وړتیاوې وپېژني او په مرسته یې ټولې هغه پولې او خنډونه له منځه یوسي، چې د دوی ژوند او کاري چاپېریال یې محدود کړی دی.

مینه‌وال کولی شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

**روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه**

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | زما ژوند، شاعري او لیکوالي | عبدالباري جهاني | ۲۳۰؋ |
| ۲ | د پښتو ادبیاتو تاریخ | عبدالحی حبیبي | ۳۰۰؋ |
| ۳ | د افغان واکمنو کرونولوژیک تاریخ | داوود افغان | ۲۰۰؋ |
| ٤ | قاچاقبره | عبدالهادي حماس | ۱۲۰؋ |
| ۵ | روابط انسانی در سازمانهای آموزشی | غلام علی سرمد | ۲۲۰؋ |
| ٦ | مدیریت آموزشی | وین ک. هوی وسیسیل ج. میسکل/نادر سلیمانی، محمود صفری، مرتضی نظری | ۳۵۰؋ |
| ۷ | مدیریت منابع انسانی | اسفندیار سعادت | ۲۰۰؋ |
| ۸ | مدیریت گردشگری | مهدی کاظمی | ۱۷۰؋ |
| ۹ | مدیریت پروژه | محمد جواد عاصمی پور | ۳۵۰؋ |
| ۱۰ | مقدمه علم حقوق | مصطفی دانش پژوه | ۱۷۰؋ |
| ۱۱ | نگارش و ویرایش | احمد سمیعی گیلانی | ۲۸۰؋ |
| ۱۲ | مقدمه نمونه گیری در تحقیق | حسن سرایی | ۱۷۰؋ |
| ۱۳ | فرهنگ تخصصی مدیران | ناصر فقهی فرهمند | ۸۵۰؋ |
| ۱٤ | مبانی و اصول مدیریت | عبدالطیب رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۱۵ | اصول فقه سیاسی | یوسف قرضاوی/عبدالعزیز سلیمی | ۲۵۰؋ |
| ۱٦ | سیاست خارجی امریکا در خاورمیانه نقش لابیها و گروهای ذی نفوذ | جنیس جی. تری/ارسلان قربانی شیخ نشین، رضا سیمبر | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | دیپلوماسی و رفتار بین المللی در اسلام | بهرام اخوان کاظمی | ۱۵۰؋ |
| ۱۸ | سیاست شرعی | عبدالوهاب خلاف | ۱۲۰؋ |
| ۱۹ | ۳۳ استراتیژی جنگ | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ۲۰ | د سازمان او مدیریت بنسټونه | علی رضائیان/محمد نواب خوښ | ۳۲۰؋ |
| ۲۱ | چون دوست دشمن است | سیمین جعفر جلالی یزدی | ۲۰۰؋ |
| ۲۲ | قوانین طبیعت انسان | رابرت گرین/فاطمه باغستانی | ۵۰۰؋ |
| ۲۳ | LEADERSHIPT | JOHN C. MAXWELL | ۳۵۰؋ |
| ۲٤ | VERY GOOD LIVERS | J.K.ROWLING | ۱۵۰؋ |
| ۲۵ | HOW TO HAVE A GOOD DAY | CAROL MANSON | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | WISHES WON'T BRING RICHES | NAPOLEON HILL | ۲۳۰؋ |
| ۲۷ | HOW TO OWN YOUR OWN MIND | NAPOLEON HILL | ۱۸۰؋ |
| ۲۸ | AFTER YOU LEFT | CAROL MANSON | ۲۲۰؋ |
| ۲۹ | EDUCATTED A MEMOIR | TARA WESTOVER | ۲۸۰؋ |
| ۳۰ | ځان مه محدودوئ | جان مکسوېل/جواد تیموري | ۲۷۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۹٤ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,۵ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# افغانستان؛

## تجربه شوي نظامونه او نوی فرصت



ذاکر جلالي

د بین‌الافغاني خبرو له لومړي پړاو وروسته چې دواړو مرکچي پلاوو پر شل ورځنۍ رخصتۍ هوکړه وکړه، دا رخصتي په پوره کېدو ده او دواړه لوري یو ځل بیا د خبرو مېز ته ورگرځي. دا پړاو ځکه دویم پړاو گڼل کېږي چې تر دې وړاندې کابو درې میاشتې مذاکرات وشول. تېر پړاو کې تمه نه کېده چې یوازې پر کړنلارې دې بحثونه دومره وخت‌نیوونکي واوسي؛ خو د توقع پرخلاف د کړنلارې په مقدمه کې افغان حکومت نه چمتو کېده چې د دوحې هوکړه د مذاکراتو د بنسټ په توگه ومني. کله چې د دوحې هوکړه د بنسټ په توگه ومنل شوه، په تېپه ولاړ حالت کې خوځښت راغی او بُن‌بست مات شو.

پر کړنلارې له هوکړې وروسته پوښتنه دا ده چې د بین الافغاني خبرو راتلونکي پړاو کې به اساسي بحث څه وي؟ د افغان حکومت لوری پر اوربند ټینگار کوي او د طالبانو مرکچیان د نظام پر جوړښت بحث ته لېوالتیا لري. مخکې له دې چې د مذاکراتو پر مېز د پام وړ پرمختگ ونه شي، د رسمي اوربند اعلان ستونزمن برېښي. د طالبانو او امریکایانو تر منځ هم خبرې رواني وې او هم توده جگړه روانه وه. مگر کله چې خبرو کې پرمختگ وشو او خبره د دوحې د هوکړې لاسلیک ته ودرېده، له لاسلیک یوه اونۍ وړاندې اورکم وشو او کله چې هوکړه لاسلیک شوه له هغې وروسته د طالبانو او بهرنیو ځواکونو تر منځ کومه جدي نښته نه ده شوې. بنا پر دې دا ځل هم داسې نه برېښي چې د مېز پر سر له کوم کوټلي پرمختگ پرته دې اوربند او یا اورکم اعلان شي. مهمه دا ده چې مذاکرات د باور، رښتینوالي او ښه نیت په فضا کې پیل شي. که د مېز پر سر فضا مثبته وي، هرو مرو به یې د جگړې پر ډگر اغېز وي، که خدای مه کړه فضا نادریزه وي، جگړه ژبغړاندې کولای شي.

له بلې خوا طالبان د «اسلامي نظام» بحث مطرح کوي. د دې بحث پر وړاندې د کابل پلاوي د جمهوریت او امارت بحثونو ته مخه کړې ده. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د افغانستان د حکومت رسمي نوم «د افغانستان اسلامي امارت» و. اوس طالبانو په ډېرو مواقعو کې ویلي چې د نظام عنوان مهم نه دی. په دې مانا چې «امارت» سره کرښه نه ده او د نظام محتوا ته ارزښت ورکول کېږي.

اساسي پوښتنه دا ده چې څه ډول نظام د افغانستان ستونزه اوارولای شي؟ امارت؟ جمهوریت؟ او که کومه بله منځنۍ لار یا ماډل؟

**افغانستان او د نظامونو تجربه**

د ۱۳۵۲کال د چنگاښ د ۲۶مې له کودتا سره د پاچاهۍ نظام پای ته ورسول شو. داوود سره له دې چې د جمهوریت اعلان وکړ؛ خو داسې جمهوریت و چې ولسمشر یې د کودتا له لارې راغلی و. په هر صورت، د داوود خان «جمهوریت» لږ تر لږه د وطن سیاسي ثبات خوندي کړی او هېواد یې د پرمختگ او پراختیا پر لوري رهي ساتلی و.

د ۱۳۵۷کال د غوایي د ۷مې له خونړۍ کودتا وروسته، اوږدمهالي بې‌ثباتۍ او گډوډۍ افغانستان ته خوله پرانیسته. له هغه راهیسې تر اوسه موږ په ټوله کې د دریوو ایډیولوژیو او یا لیدلوریو حکومتونه تجربه کړي. کمونیستي، اسلامي او جمهوري نمونې تجربه شوې چې پیل پر کمونیزم وشو. له ۱۳۵۷ تر ۱۳۷۱ کال پورې ولس عملاً د کمونیستي رژیم او شوروي یرغل پر ضد مقاومت وکړ. دا چې سوسیالېزم څه و، فلسفه او غوښتنې یې څه وې او په افغانستان کې په څه بڼه پلی شو، دا جلا بحث دی؛ خو لږ تر لږه د نظام اساسي کرښه سوسیالېزم و.

د ۱۳۷۱کال د غوایي په لومړیو کې د پخواني شوروي اتحاد له ملاتړه برخمن کمونیستي رژیم نسکور شو او مجاهدین د «اسلامي حکومت» له شعار سره کابل ته ننوتل. کابل ته د مجاهدینو له ننوتلو سره افغانستان له سوسیالېزم وروسته د بلې ایډیولوژۍ تجربه پیل کړه. د مجاهدینو په تنظیمونو کې درې گوني تنظیمونه چې اخوانیان بلل کېدل، هغوی د «اسلامي حکومت» بحث درلود. مگر د «اسلامي حکومت» مسئله یوازې په شعار پورې محدوده پاتې وه. کابل کې یوازې چارواکي بدل شول او تر څنگ یې پوهنتون کې د «اسلامي ثقافت» مضمون لازمي شو او رسنیو کې ځینې دیني ارشادات زیات شول. خو د حکومتدارۍ په برخه کې عملاً افغانستان یوه انارشېزم او ملوک الطوائفۍ سره مخ و. مرکزي حکومت ان کابل کې خپله ولکه ټینگه نه شوای کړای. نور ولایت همداسې د نورو تنظیمونو او ان محلي قومندانانو د محلي واکمنیو تر ولکې لاندې وو.

د مجاهدینو له پنځه کلنې واکمنۍ وروسته طالبانو د ۱۳۷۵ کال په تلې میاشت کې کابل ونیو. طالبانو که څه هم څه موده د «اسلامي دولت» عنوان کاراوه؛ خو وروسته چې ملا محمد عمر مجاهد ته د «امیرالمومنین» لقب ورکړل شو، طالبانو د خپل نظام عنوان له «اسلامي دولت» څخه «د افغانستان اسلامي امارت» ته واړاوه. خو طالبانو هم د مجاهدینو په څېر تر پایه د «اسلامي امارت» یو واضح او روښانه تعریف وړاندې نه شوای کړای. سره له دې چې ویل کېږي پر افغانستان لا هم د جگړې سیورۍ غوړېدلی و، خو بیا هم څومره چې لازمه او ممکنه وه د نظام‌جوړونې په برخه کې کار ونه شو. یا په بله اصطلاح د «اسلامي امارت» حدود، واکونه، د خلکو حقونه او ازادۍ په یوه سند کې تعریف نه شول. همدا ابهام او گونگ حالت د دې لامل شو چې ځینې عادي طالبان په ځینو داسې کړنو لاس پورې کړي چې د یوې اسلامي او متمدنې ټولنې او نظام له ارزښتونو سره یې ډېر اړخ نه لگاوه.

پر افغانستان له امریکایي یرغل وروسته، د بُن د ناستې په پایله کې لومړۍ شپږ میاشتنۍ لنډمهاله اداره او وروسته اتلس میاشتنۍ انتقالي حکومت رامنځ ته او یو داسې اساسي قانون تدوین شو چې پر بنسټ یې د یوه لیبرال افغانستان بنسټ کېښودل شو. طالبانو د دغه جوړښت مخالفت وکړ او د افغان حکومت او بهرنیو ځواکونو پر خلاف یې وسله‌وال مقاومت پیل کړ. که څه هم افغانستان په ۲۰۰۴، ۲۰۰۹، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کلونو کې ولسمشریزې ټاکنې او دغسې څو دوره د ولسي جرگې ټاکنې تجربه کړې؛ خو د دوو لسیزو له تېرېدو سره سره، ښکاري چې دغه نسخه هم له عملي ننگونو سره مخ ده. د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کلونو له درغلیو ډکې نادریزې ټاکنې، بده حکومتولي، حکومتي جوړښت کې د فساد ډېر ښکاره شتون، د طالبانو نظامي پرمختگونه، له حکومته د نړیوالو د ملاتړ کمښت... دا ټول هغه څه دي چې دغه جوړښت یې هم له عملي ننگونو سره مخ کړی دی او افغانان یو ځل بیا پر یوه نوي جوړښت غور کوي.

**نوی جوړښت**

د طالبانو او امریکایانو تر منځ د دوحې په هوکړه کې د «نوي افغان اسلامي حکومت» یادونه شوې ده. دا په دې مانا ده چې بین‌الافغاني خبرو کې به افغانان د یوه نوي سیاسي جوړښت پر څرنگوالي بحث کوي. کله چې د سپتمبر په ۱۲مه په دوحه کې بین‌الافغاني خبرې رسماً پیلېدې، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په ډېر صراحت سره وویل چې ډیموکراسي یو ښه نظام دی؛ خو موږ پر افغانانو د خپلې خوښې نظام نه تپو. له دې ښکارېده چې امریکایانو نور په افغانستان کې د ډیموکراتیزه کولو او ورته نورو لیبرال ارزښتونو د پاللو مسئله پرېښې ده او دا یوازې د افغانانو مسوولیت او مکلفیت گڼي.

په دوحه کې د مذاکراتو عمدتاً دوه لوري دي، چې یو یې ځان د جمهوریت ټیم بولي او بل د امارت ټیم گڼل کېږي. پر دغو دواړو اصطلاحاتو لنډ تم کېږو:

**جمهوریت**

جمهوریت د ډیموکراتیکو نظامونو بڼه ده. هغه نظامونه چې واک پکې د خلکو وي او د نظام ټول حدود، اصول او ارزښتونه خلک ټاکي. د جمهوریت یوه ځانگړنه سیکولاریزم دی؛ کله چې د نظام د جوړښت اساسي او اصلي مرجع د خلکو خوښه او انتخاب وي، مانا دین ته پکې ډېر دخل او غرض نشته؛ خو په اسلامي نړۍ کې د دې ټکر د حل یوه هڅه شوې ده. په ډېرو اسلامي هېوادونو کې چې د جمهوریت پر جوړښت چلېږي، په اساسي قوانینو کې داسې ماده ځای شوې چې هېڅ داسې قانون به نه جوړېږي چې د اسلام له لارښوونو سره په ټکر کې وي. خو داسې ډېر موارد شته چې له اسلام سره په ټکر کې وي. دغه ډول مادې تر ډېره د پوښښ او توجیه لپاره کارول کېږي، نه دا چې عملي ځای دې ولري.

د جمهوري نظامونو اساسي او تر ټولو مهمه ځانگړنه د حاکمیت بحث دی. د افغانستان د اساسي قانون څلورمه ماده کې راځي: «په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري....». دا دې ډیموکراسۍ اساسي اصل دی چې حاکمیت یا د انگلیسي په اصطلاح Sovereignty پکې خلکو ته ورگرځي. دیني نظامونو کې حاکمیت خدای ته ورگرځي. دغه د جمهوري نظام اساسي ځانگړنه او له اسلامي حکومت سره یې اساسي توپیر گڼل کېږي.

**اسلامي نظام/امارت**

په ۱۹۲۴کال کې کله چې د اسلامي خلافت وروستۍ نښه (عثماني خلافت) نسکوره شوه، له هغې راهیسې د اسلامي خلافت، اسلامي نظام او یا اسلامي حکومت بحث په اسلامي نړۍ کې مطرح دی. د خلافت له نسکورېدو سره مسلمانانو ټکان وخوړ. په لومړي ځل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته په نړۍ کې د خلافت نظام له منځه وړل شوی و. دې چارې ډېر بحثونه راوټوکول. لومړنی کتاب په مصر کې علي عبدالرازق د «الاسلام و اصول الحکم» په نامه ولیک. عبدالرازق استدلال وکړ چې خلافت یو الهي نظام نه دی او یوازې یوه بشري تجربه وه. په دې اساس مسلمانان کولای شي چې هر ډول نظام د دوی په مصلحت وي، ترې گټه پورته کړي. د هغه استدلال دا هم و چې د خلافت د نظام په تړاو په قران او حدیثو کې هېڅ ځای واضح او صریح احکام نه دي راغلي.

د عثماني خلافت له سقوط لږ وړاندې په مصر کې د مشهور عالم او لیکوال رشید رضا لخوا د «اسلامي حکومت» بحث مطرح شو. رشید رضا سره له دې چې خلافت ته د علي عبدالرازق پرخلاف د دیني بنسټ په سترگه گوري؛ خو اوسنیو شرایطو کې چې د خلافت اقامه په لازم ډول ممکنه نه ده، د «اسلامي حکومت» بحث مطرح کوي. اسلامي حکومت په دې ډول چې د معاصر دولت- ملت په چوکاټ کې حکومت په موډرنو اصولو رامنځ ته شي؛ خو شورا به یې اصل وي او شورا یا قانون‌جوړونه به د شریعت پر مټ محدوده وي. په دې ډول، اسلامي حکومت به حاکمیت ورگرځي الله/ شریعت ته.

له دې بحث څخه ښکاري چې د لیبرال جمهوري نظام او اسلامي حکومت تر منځ اساسي توپیر د محدودوالي او نه محدودوالي په بحث کې دی. لیبرال جمهوري نظامونو کې حاکمیت په بشپړ ډول د خلکو خوښې او رضا ته پرېښودل شوی. په دې اساس دا حکومت محدود دی. د دې پرخلاف، اسلامي حکومت کې حاکمیت ورگرځي الله تعالی او د نظام قانون‌جوړونه د شریعت په حدودو او دائره کې قانون‌جوړونه کولای شي. له دې اصله هاخوا، د «اسلامي حکومت» داسې کوم ماډل یا نمونه نشته چې د اسلامي نړۍ ټول پوهان او مفکرین پرې یوه خوله وي او ټولمنلی تعریف وگڼل شي. له دې ښکاري چې اسلام د نظام کومه ځانگړې بڼه پر مسلمانانو نه ده لازمي کړې، بلکې د نامتو مسلمان فقیه ډاکټر محمود غازي په خبره مسلمانان کولای شي چې د عرف، مصلحت او بشري عقل پر مټ؛ خو د شریعت په حدودو کې خپله حکومتولي پر مخ یوسي.

**منځنۍ لار**

افغانستان چې په اسلامي نړۍ کې هم په مادي او هم په معنوي لحاظ یو فقیر او ناداره هېواد دی، د تاریخ په اوږدو کې موږ داسې مفکرین نه دي لرلي چې هغوی زموږ دین، کلتور او ټولنیزو واقعیتونو ته په پام سره د داسې یوه نظام نقشه جوړه او پلې کړې چې زموږ له دیني ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي او هم وکولای شي زموږ اړتیاوو ته ځواب ووایي. له همدې امله په افغانستان کې یوازې اسلامپالي نه، بلکې تر دوی وړاندې کمونیستان او بیا وروسته له غربه راغلي ټول په دې کې پاتې راغلل چې یو ځواب ویونکی نظام رامنځ ته کړي.

اوس چې د سولې خبرو کې د نظام پر جوړښت خبره کېږي، دا افغانانو ته یو مهم فرصت دی چې اعظمي گټه ترې پورته کړي. د طالبانو اساسي غوښتنه د اسلامي نظام ده. مقابل لوري ویلي چې طالبان د اسلامي نظام واضح او روڼ تعریف نه وړاندې کوي. زه فکر کوم اسلامي نظام ډېر پېچلی نه دی. تېرو تجربو ته په کتو، پکار ده چې دواړه لوري پر داسې نظام غور وکړي چې حاکمیت پکې د الله تعالی وي، د نظام حدود شریعت وټاکي او له دې وروسته بیا خلک د سیاسي مشارکت، د بیان ازادۍ او د کار حقونه ولري. اسلام د نظام کومه ځانگړې بڼه نه ده لازمي کړې، بلکې نظام ته یې پولې ټاکلې. اوس که د افغانستان راتلونکي نظام کې حاکمیت د الله تعالی شي او د نظام پولې د شریعت په دایره کې وټاکل شي، له دې وروسته نه د خلکو د سیاسي مشارکت حق ستونزه لري، نه د بیان ازادي او نه هم نور حقونه ستونزه جوړولای شي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۱۷مه | د ۲۰۲۱ د جنوري شپږمه | ۶۵۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | ۳ | ۹ | ۱۱ | ۱۷ | ۷ |
| -۵ | -۹ | ۱ | -۱ | ۵ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۲۰ | ماښام ۰۴:۵۸ | ماخوستن ۰۶:۲۷

## نړۍ




### تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ۸۶۳ زره او ۲۳۴ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۶ میلیونه او ۲۰۲ زره او ۱۱۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۸۶۳ زره او ۲۳۴ کسان مړه شوي او له ۶۱ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۱ میلیونه او ۳۵۳ زره او ۵۱ ته رسېدلي او ۳۶۲ زره او ۱۲۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۳۵۷ زره او ۵۶۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۷۵۴ زره او ۵۶۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۲۸۴ زره او ۳۸۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېتانیا د دوه میلیونه او ۷۱۳ زره او ۵۶۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

### راپورونه: د امریکا په ټاکنو کې د کړکېچ د مخنیوي لپاره د ملي ګارد سلګونه سرتېري ګومارل شوي

د راپورونو له مخې، په امریکا کې د ټاکنو پر سر د کړکېچ او ناندریو په دوام، په واشنګټن ډي سي کې د ولسمشر ټرمپ د پلویانو له لاریون مخکې د ملي ګارد سلګونه سرتېري د امنیت لپاره ګومارل شوي دي.

دا په داسې حال کې ده، چې تمه ده د متحدو ایالتونو کانګرېس نن، د منتخب ولسمشر په توګه د جو بایډن د تایید لپاره رایې ورکړي. د ټرمپ پلویان په پام کې لري چې د ټرمپ په ملاتړ چې د اسنادو له وړاندې کولو پرته په ټاکنو کې د درغلیو ادعا کوي، د امریکا په پلازمېنه کې پراخ لاریونونه وکړي.

په ورته مهال په واشنګټن کې دېره ملي ګارد په یوه بیان کې ویلي، چې د ګڼې ګوڼې د کنټرول او له اطفايي او د ژغورنې له خدماتو سره د مرستې لپاره به د دغو ځواکونو سلګونه سرتېري چمتو وي. د یادونې ده چې د امریکا د تېر زېږدیز کال په ولسمشریزو ټاکنو کې جو بایډن بریالی اعلان شوی، خو ولسمشر ټرمپ لاهم د نوموړي بریا نه ده منلې او تور یې پورې کړی چې په دا ټاکنې له درغلیو ډکې وې. په ورته مهال په دې وروستیو کې ځینو غربي رسنیو راپور ورکړ چې د ولسمشر ټرمپ ټاکنیز کمپاین هم له جو بایډن سره هممهاله د لوړې موازي مراسمو ترسره کولو ته چمتووالی نیسي.

### کمیسیون حقوق بشر:
## آتش‌بس و حقوق قربانیان جنگ اجندای دور تازه گفتگوها باشد



کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان می‌خواهد که آتش‌بس دایمی و حقوق قربانیان و مدافعان حقوق‌بشری در آجندای مرحله تازۀ گفتگوهای قطر میان دولت افغانستان و طالبان شامل باشد.


شهرزاد اکبر رئیس کمیسیون گفته است که آن‌ها هفته گذشته این خواست را با ارسال نامه به هیئت‌های مذاکره کننده‌ای دو جانب شریک کرده‌اند. بانو اکبر می‌گوید: «خواست اول همین است که توافق هرچی زودتر روی آتش‌بس شود تا از قربانی شدن غیرنظامیان در افغانستان جلوگیری شود. در کنار آتش‌بس روی انواع مختلف خشونت که برای مردم ملکی آسیب می‌رساند، مانند قتل‌های هدفمند، باید تحقیق مشترک در مورد انجام بدهند. خواست دومی را که مطرح کردیم این است که روند باید قربانی محور باشد و صدای قربانیان جنگ به صورت مستقیم از هر دو طرف شنیده شود.»

این خواست رئیس کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان در حالی مطرح می‌شود که انتظار می‌رود امروز مرحله تازه گفتگوها میان هیئت دولت افغانستان و طالبان پس از وقفه سه هفته‌یی آغاز شود.

هیئت مذاکره کننده دولت می‌گوید، آن‌ها در مراحل بعدی روی آتش‌بس دایمی، چگونگی نظام و ارزش‌های حقوق بشری با طالبان بحث خواهند کرد. محمد نعیم سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در قطر به رادیو آزادی گفته است، آجندای بحث مذاکرات با توافق هر دو جانب مشخص می‌شود.

## ژوند

### ښه کړه وړه تل له ښه فکر کولو سره ملګرې وي




ښه فکر کول هغه ټکان دی، چې له تاسې سره په پرمختګ کولو کې مرسته کوي. رښتیني پاتې کېدل او ښه فکر کول موخو ته د رسېدو لار جوړوي. څه کم دوه زره کاله کېږي چې خلک وايي، ژولیوس سزار ښه ویناوال و؛ ځکه چې ویل یې، تجربه د انسان تر ټولو ښه لارښود دی. پر هغه ټول احترام سره سره چې ژولیوس ته یې لرم، غواړم ووایم چې د هغه له دې خبرې سره زه مخالف یم. هغه تجربې چې شوې، کېدای شي تر ټولو ښه لارښود و اوسي. یوازې هغه وخت کولای شی ووایئ، چې تجربه ښه لارښود دی، کله چې پر هغه له فکر کولو وروسته، له هغه زده کړه وکړئ او بیا په ژوند کې یو بدلون رامنځ ته کړئ. له ډېرې پخوا زمانې راهیسې ځیني خلک وايي، چې تجربه تر ټولو سختګیر استاد دی، اول ازموینه اخلي او وروسته تدریس کوي. دا خبره هغه وخت رښتیا کېږي، چې انسان د یو څه له تجربې وروسته د هغه په اړه فکر وکړي او له هغه یو څه زده کړي.

### ویوو د اېکس۶۰ لړۍ دوه پیاوړي موبایلونه معرفي کړل

ویوو کمپنۍ په چین کې د یوې رسمي غونډې له لارې خپل د اېکس۶۰ لړۍ دوه پیاوړي ځیرک موبایلونه، اېکس۶۰ او اېکس۶۰ پرو، کاروونکو ته معرفي کړل. د ویوو اېکس۶۰ لړۍ لومړني ځیرک موبایلونه دي چې د سامسُنګ کمپنۍ اګزینوس۱۰۸۰ ډوله ۵ نانو متر پروسېسر سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي.

**ویوو اېکس۶۰ پرو**

دغه ځیرک موبایل ۶,۵۶ انچه فول اېچ ډي پلس ډوله ۱۰۸۰*۲۳۷۶ پکسله ریزلوشن لرونکې مخپاڼه لري چې ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ، ۲۴۰ هرټز ټچ سمپلېنګ رېټ او اېچ ډي ار ۱۰ پلس څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل به ۱۲ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ – ۲۵۶ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ولري.



**ویوو اېکس۶۰**

دغه ځیرک موبایل د اېکس۶۰ پرو په پرتله ارزانه او تقریباً ورته ځانګړنې لري. اېکس۶۰ کې ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ – ۲۵۶ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده. دغه ځیرک موبایل شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي، ۱۳ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل او ۱۳ مېګاپکسله پورټېرټ کامرې پکې شاملې دي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې ښه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټیټمنټ لیدل، د صرافي خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې ویستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافي خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل ادراینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې ښه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515

